# Orientation to Ontario

1-855-626-0002
https://orientationontario.ca

# بېړني خدمتونه

## د ژوند ګواښونکي بېړني حالتونه

9-1-1 خدمتونه (یوازې په بېړني حالت کې کارول کېږي).

په داسې حالت کې چې ستاسو یا د بل کس روغتیا په خطر کې وي، په کاناډا کې له هر ځای څخه 9-1-1 ته زنګ ووهئ. دا شمېره تاسو د پولیسو، امبولانس او اور وژنې خدمتونو سره نښلوي. 9-1-1 ته زنګ وهل وړیا دي او د ځمکني تلیفون، ګرځنده تلیفون یا عامه تلیفون څخه ورسره اړیکه نیولی شئ.په لاندې حالتونو کې 9-1-1 ته زنګ ووهئ.

در شرايط زير با ۹۱۱ تماس بگيريد

- د یو چا ژوند په خطر کې دی یا اشخاص یا ملکیتونه له نږدې ګواښ لاندې دي (د مثال په توګه د اور په حالت کې).
- یو جرم یا جنایت د ترسره کېدو په حال کې دی.
- یو جدي جرم پېښ شوی او شکمن کش ممکن لا هم په سیمه کې وي یا احتمال لري چې د جرم صحنې ته راستون شي.
- له مشکوکو شرایطو داسې ښکاري چې جرم ترسره کېږي یا همدا اوس ترسره شوی دی.

کله چې تاسو 9-1-1 ته زنګ ووهئ:

- آرام اوسئ او په روښانه توګه خبرې وکړئ.
- که تاسو د ژباړونکي د خدمتونو غوښتنه وکړئ، په لیکه کې پاتې شئ ترڅو چې تاسو له ژباړونکي سره وصل شئ.
- ووایئ چې کوم ډول خدمت ته اړتیا ده (پولیس، امبولانس، عطفایه).
- وضعیت تشریح کړئ.
- د پوستي کوډ په ګډون خپله دقیق پته ورکړئ.
- خپل نوم، پته او د تلیفون شمیره ولیکئ.
- هرې اضافي پوښتنې ته ځواب ورکړئ.
- تر هغې په لیکه کې پاتې شئ ترڅو چې اپرېټر تاسو ته د د اړیکې د پرې کولو نه وي ویلي.

د Ontario 9-1-1 پاڼې اړوند نورو معلوماتو لهپاره opp.ca وګورئ.

امبولانس ـ که تاسو روغتون ته د وړلو لپاره امبولانس ته اړتیا ولرئ، ستاسو د اونټاریو روغتیا بیمې پالیسي ممکن ستاسو ټول لګښت یا یې یوه برخه په غاړه اخلي. د امبولانس خدمتونو د بیل او حساب په اړه د معلوماتو لهپاره لاندې ویبپاڼه وګورئ: findlink.at/AmbuSvBill

## ژوند نه ګواښونکي بېړني حالتونه

کله چې تاسو له دا ډول حالتونو سره مخ وئ د مرستې غوښتنې ډېرې لارې شته. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو له شته خدمتونو سره آشنا یاست نو تاسو د بیړنی حالت په صورت کی ژر تر ژره پریکړه کولی شئ.

پولیس ـ په کاناډا کې پر پولیس باور کیدای شي. دوی د عامه امنیت تضمینوي او په قانوني توګه عمل کوي ـ دوی زموږ د ساتنې لهپاره دي. پولیس افسر ته رشوت ورکول جرم دی.

په اونټاریو کې د پولیسو په اړه د نورو معلوماتو لهپاره، opp.ca ته لاړ شئ.

بېړني خدمتونه ـ که ستاسو روغتیایي وضعیت سمدستي پاملرنې ته اړتیا ولري، نږدې بېړنیو خدمتونو ته لاړ شئ، د بېلګې په توګه، د روغتون بېړنۍ څانګه یا د بېړنۍ پاملرنې مرکز. روغتونونه تل خلاص وي، خو کېدای شي چې انتظار ډېر وخت ونیسي. د دې خدمتونو په اړه د نورو معلوماتو

Funded by / Financé par

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada
Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

لەپاره ontario.ca/page/emergency-rooms یا ontario.ca/page/urgent-care-centres ته لاړ شئ.

واک - ان یا متحرک کلینیکونه - دا کلینیکونه د هغو خلکو لەپاره روغتیايي مشورې او پاملرنې چمتو کوي چې کوچني ټپونه یا ناروغی لري، او د کورنی منظم ډاکټر نه لري. تاسو کولی شئ د لومړنیو پاملرنو او معلوماتو لەپاره خپل سیمەییزروغتیايي مرکز ته هم لاړ شئ. د دې خدمتونو په اړه د نورو معلوماتو لەپاره لاندې ویبپاڼې وګورئ: findlink.at/WakgClinic او findlink.at/ComHealthC

که تاسو د کورنی ډاکټر لرئ، د ناروغی یا ټپي کېدو په صورت کې نوموړی ستاسو د لومړنی اړیکي مرجع ده. د کورنی ډاکټر موندلو لەپاره findlink.at/findgp ته مراجعه وکړئ.

Telehealth Ontario - له راجستر شوي نرس څخه د عمومي روغتیا مشورې ترلاسه کولو لەپاره Telehealth Ontario ته په 1-866-797-0000 زنګ ووهئ. دا خدمت وړیا دی او هر وخت د لاسرسي وړ دي. مشوره په فرانسوي او انګلیسي دواړو دوړاړو ژبو تر څنګ په ځینو نورو ژبو هم ژباړل ستاسو لەپاره ژباړل کېږي او وړاندي کېږي. د نورو معلوماتو لەپاره د findlink.at/telehealth ته لاړ شئ.

## بیړني او لنډ مهاله کورونه

دا ډول کورونه وړیا دي او د کال په اوږدو کې د هغو کسانو لەپاره د لاسرسي وړ دي چې په بحران کې دي یا څوک چې د خوب کولو ځای نه لري (''بې کوره'').

که تاسو بې کوره یاست، له کوره ایستل شوي یاست یا ستاسو په خپل کور کې د زیانمنېدو له خطر سره مخ یاست نو تاسو کولی شئ بیړني سرپناه یا هاسټل ته لاړ شئ. معمولا دا ځایونه د ځانګړو اړتیاوو لرونکو ډلو په خدمت کې دي او له اړتیا سره سم خدمتونه وړاندي کوي. د بېلګې په توګه د د نارینه، ښځو، کورنیو او ځوانانو لەپاره خدمتونه شته.

که تاسو د کورنی تاوتریخوالي قرباني یاست، تاسو کولی شئ یوې سرپناه یا خوندي کور ته لاړ شئ. دا ځایونه خوندي او امن دي. دوی د خوب لەپاره ځای چمتو کوي او د والدینو او د دوی د ماشومانو لەپاره د مشورې خدمتونه وړاندي کوي (که اړتیا وي).

د بېړني او لنډ مهاله کور په اړه د نورو معلوماتو لەپاره findlink.at/EmgHousing ته لاړ شئ یا 2-1-1 ته زنګ ووهئ یا 211ontario.ca ته لاړ شئ

د بېړني یا فوري خطر په صورت کې بېړني هاسټل / سرپناه ته لاړ شئ یا 9-1-1 ته زنګ ووهئ

## بېړنۍ مرستې

د بېړني مرستې لاینونه وړیا دي او کارمندان چمتو کوي چې له هر هغه سره د تلیفون له لارې مرسته وکړي، مشوره ورکړي او غوږ ورته ونیسي چې اړتیا لري. دلته د ځینو مرستو ځینې لیکي (لاینونه) یادوو:

- له خطر سره مخ میرمنو د مرستې لاین - 1-866-863-0511. د هغو ښځو لەپاره چې له ازار او ځورونې سره مخ وي.
- د 1-866-887-0015 له جنسي ځورونې څخه د خوندیتوب د ملاتړ خدمتونه.
- د ماشومانو د مرستې تلیفون 1-800-668-6868. د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره.
- د بحران کرښه 1-866-996-0991. د رواني روغتیا خدمت.
- کاناډا د همجنسبازانو د والدینو، کورنیو او ملګرو (PFLAG) - 1-888-530-6777. د هغو خلکو لەپاره خدمات چې د جنسي تمایل او جنډر هویت په اړه پوښتنې یا اندیښنې لري.
- د همجنسپرستو ځوانانو کرښه - 1-800-268-youth. په اونټاریو کې د LGBTTIQQ2S ځوانانو لەپاره خدمت.
- د فرانکوفون لەپاره د بېړنیو لینونو په اړه د نورو معلوماتو لەپاره findlink.at/CrisisLine وګورئ

د بېړنیو کرښو نور ادرسونه د د روږدو او رواني روغتیا په مرکز کې لیکل شوي دي: findlink.at/CrosisReso.

**مهم یادښت**

**د فرانسوي ژبو خدمتونو قانون د یو فرد حق تضمینوي چې په اونټاریو کې ۹-۱-۱ ته د زنګ وهلو پرمهال له یو چا سره په فرانسوي ژبه خبرې وکړي. د دې خدمت له لارې ژباړونکي هم شته چې په 140 ژبو خبرې کوي - د خپلې خوښې ژبې په ویلو کې زړه نازړه مه کېږئ.**